


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# عبدالحفیظ « ملیار ـ ساپی »

د نشرنیته : 24 دسمبر 2025 میلادی

## نا اهله!

د بهرام غونديٍ نا اهله را پيداشي
د هجري غونديٍ ورور وسپاري مغل ته

نه د پلار او دنيکه نوم ته به ګوري
بس په بد نظر به ګوري هغه خپل ته

د لاس خيره ورسره په خره به سپور وي
په کږه لار به روان وي خپل منزل ته

انسانيت او صداقت واړه ترې هير شي
مرګی هيروي فکر نه کوي اجل ته

له شعري پربښتو ځار شمه مليارہ
د لفظونو ډالۍ راوړي ستا غزل ته

***

عبدالحفيظ « ملیار »

نوټ:
بهرام او هجري دواړه دخوشال بابا زامن وه ، چې بهرام يې نا اهله او هجري يې له افتخاراتو ډک انسان ؤ، البته دا يو لوی داستان دی.

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org